مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیدعبیدالله نادر
۲۰۲۴/۰۲/۲۹

# د عبرت په آئینې کې

د فانی دنیا د سست بنیادئ په هکله ،او د فانی دنیا د نازکو لمحو نه د عبرت درس اخیستل، او په دې ګلشن کې په هيڅ شي له تغا فله نه تیریدل ،دلته د روانو اوبو د کذر نه هم عبرت ټکي راټولول ،او دې ته هم پام اړول ،چې دلته ګوندی هيڅ شی بی حکمته پیدا نه دی ،د لته خار وخس ته د معرفت په نظر کتل ، او هيڅ شي بی حکمته نه بلل ،او د هرې پاڼې نه حکمتونه اخیستل،او روزګار د ګذر نه درسونه اخیستل ،یا د روزګار د مکتب ښځه درسونه او پندونه اخیستل ،او خپل بی بقا عمر ته متوجه کیدل ، او دې ته هم پام اړول ، چې د غه سبا چې مونږ ورته انتظار یو ،چې دا سبا به وي او که نه، یعنی چې دا سبا چې مونږ ورته انتظار یو چې دا سبا به راځي او که نه، ځکه یو شیبی کي له دې فانی دنیا نه تلونې یو ،او یا بی خبره تګ لرو ،نو په کار ده چې د غرور او تکبر نه ځان وساتو ،چې د بایزید بسطامی په قول چې( هرګز از متکبر بوی معرفت نیاید)یانې هيڅ کله د متکبر نه بوی د معرفت او پوهنې نه راځي یانې ځوک چې د خپل عاجزئ درک کوی ، بی له شکه چې د معرفت وږمې ترې راخیږي ، دلته ښايي د عبرت غوږونه خلاص وساتو او د زمانې د هر ادا نه چې زمونږ د عبرت او پند له پاره راڅرځي د عبرت ټکي واخلو او راټول کړو،یعنی د عبرت او د لټون د زړه سترګي خلاصې وساتو، او د عبرت په آیینې کي یو ځل خپل انجام ووینو ،یانی د ګل د هرې پاڼې د لویدو سره مونږ لکه د حال خاوندانو په څیر ،باید د خپل انجام درس ترې واخلو، یا خپل انجام په کې ووینو،او ترې درس واخلو،

هره پاڼه چې د ګل څخه تویږي
صاحبدل په خپل انجام باندی پوهیږي
نادر

او د صاحبدلانو په شان او د ژور درک خاوندانو په شان د زمانې د هر ګذر نه د عبرت درس واخلو او د زړه او درک خاوندانو په شان د عبرت درس ترې واخلو ،نو زما لاندنې اشعار یو بیتې او څلوریځې ټول چې په دې مختصر کې دي،ټول په همدې خبرو او همدې محور او دا پورتنې ټکو راڅرځي ، او دا مطالب په خوا کې نیسي ،چې د دنیا د سست بنادئ او بی وفایي نه په کې حکایت دی.او انتباهی،تعلیمی ، اخلاقی او تربیوی اړخونه لري، خو افسوس چې انتباهی اشعار، نثرونه او ادبی مطالب چې انتباهی وي ، او بیدارونکي بڼه ولري، ځوک یې نه لولي ، او که ځوک یې ولولي هم ، نو معنی ته یې نه ځیر کیږي ،نو بیا هم د هغه دوستانو له پاره چې په دې مطالبو یې سر خلاصیږي ،نو شعرونه څلوریځې او یو بیتې می چې د یوې رساله ګوټې تر حد او اندازې دي، د ادب مینه والو ته وړاندی کوم ، هیله ده چې د عبرت په دې آئینه کې هر ځوک خپل ځان ووینې ،او د انتباهی اړخونو او بنو ښځه یې د عبرت ټکي راټول کړي او خوند ترې واخلي ،

سید عبید الله نادر

۲۰۲۴/۲/۲۷



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ

زما يو بيتی

هره پـــانه چي د ګـل ځـــخه تو يري
صاحبدل په خپل انجام باندی ، پو هيږي
««««««««««««««««««««««««««««
چي هر چا نه په دنيا کي ، تل قربان او صدقه يم
په خپل عجز يم رسيدلی ، ځکه دومره شکسته يم
««««««««««««««««««««««««««««««««
په غرور کي ، په ټول عمر وم ستـــومانه
چي په خود شـــوم ، عمر تللی وو له ما نه
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
که دنيا بی وفايي نه ، څوک غافل دی
د عبرت درس په فرياد کي د بلبل دی
««««««««««««««««««««««««««««««
که دمرګ ځخه ډار نه وي ، دا به ځنګه زنده ګي وي
مرګ نشان د معرفت دی ، په هر شی، چي په خلقت دی
«««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
په غرور کي مي نظر وو په خپل ځان
عاجزی کي مي نظر شو په جـــــهان
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
بزرګی زيری می هلته په نصيب شو
چي د اوښـــکو ، سيــــــلابو ، لمبيدلم
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
انګازی چي د غرور می هر خوا اوری
زه همــاغه پرونی يم ، د خـــپو خاوري
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
په يوه نفس په سوړ، د محشر لمر شي
که دا خپل سوزاو ګداز راسره مل وي
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
رژيدو د ګل ته وګوره په خود شه
دفاني دنيا نه ، دومره اشارت بس
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
د وياڼي تر غاړه ، وګوره ، د عمر ګذر
خاوندانو ته دفهم ، همدومره اشارت بس
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
دا چي ځو کر ځي په ګوتو باسی ، لاري
دغه ګوتي به سبا وي ، د ګــور خاوري
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
بی خـــــبره يو شـــيبی کي و له فانی دنيــا يم تلــونی
په خپل حال باندی می پام دی ، ځکه يمه ژړه غونی
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
درنه چوپتيا ده ، په نظر کي د غافل په هديری کي
د عبرت رســا غوږونه ، تر ی نه اوري حکمتونه
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
زمانه په هر انداز عبرت سازی کړي
تر ځو وينښ کړي له لګونو، له غافل
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

چي لــه مكــره ، د فــاني دنيــا خبر وي
په خپل حال باندی يې ، هر لمحه نظر وي
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
لکه ګل په شان غوړيږو،بيا يوه خولګي،خنديږو
خو په رمز کي د فانی ژوند ، تر قيامته نه پوهيږو
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
فرصت مو غنيمت کړی ، ځان مه پريږدئ وزګار
زمانه هســـــــــــي تيريږي ، درنګ نه کـــــــــــړي، روزګار
««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
چي فاني دنيا له مکره وي ، غافل
دا ده نښه د مغرور او د جـــــــــــــاهل
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
هر شی چي ګورم ، فنا کيږي ، دلته هيڅ شی نه پاتي کيږي
عبرت په سل رنګه طرزونو، په دي چمن کي ښکاره کيږی
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
لکه تصوير په سينمـــــا کي ، پردي له مـــــــــــــــــــــــــخي نه تيريږي
غافله زه يم له حقيقت نه ، چي راته ژوند غوندی ښکا ريږي
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
د عبرت نښي به ډيري ورښکاره شي
چــــا چي سترګي وي پرانيستي د لټون
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

««««««««««««««««««««««««««««««««
تصور کي چي خپل عجز مخي ته دريږي
د زړه ويني می له سترګـــــــــــــــــــــــــو نه تويږي
««««««««««««««««««««««««««««««
نه پو هيږم څه اسرار دی دفنــــــــــــــــــــــــا ،او څه حکمـــــــــت
چي چا ونه لوست له دي ديوان نه حرف و عبارت
««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
نه پوهيږم چي زه څه يم ، پيدا شوي زه په څه يم
سر ګردانه دي عالــــــــــــم کي ، له معنی نه خبر نه يم
««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
له دي خاورو پيـــــــــــــدا کـــــــــيږو ، په همـــــــدي خــــــاورو فنا کيږو
په همدي دستور روان يو ، په خپل تکليف هم نه پوهيږو
««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
څوک هر لمحي کي ، د دنيا له مکاری وي ، خبر دار
څـــــــــــوک په آواز د کلندونو ، د ګور کن کي شي بيدار
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
چي تيريږی می له قبره په غرور او به خرام
دلته وګوره آييني کي ، د عبرت خپل انجام
««««««««««««««««««««««««««««««
په ټول عمر په عذاب کي ، روح او تن وو
عمر نه وو ، په ربنــــــــــــتيا چي ځنـــــــــکدن وو
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
تن وجود مو په ټول عمر خوار و زار وو
ژوندون نه وو، هسي مرګ ته انتظار وو
«««««««««««««««««««««««««««««««««««
زه همداسي چي يو دم ، بی خبري کي يم راغلی
بی خــــــــــبره يوه ورځ به ، له فـــــــاني دنيا يم تللی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

««««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
تغافل په دي چمـــــــــن نه دی ، په کار
څکه پټ يي خار وخس کې دي ، اسرار
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
اشارت د عاجزئ دومره دی ، بس
چي طوفـــــــان کې د فنا يم لکه خس
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
لا یو دوه ټکي پوه نه وم ، په اســــــــــــرار د دي دنيا
چي می تګ شو ، په حيرت کې ، د عدم په لورې بيا
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

د عارف په هر قدم کې ، په خپل حال باندی وي پام
څکـــــــــــــــه ويني په رڼا د معـــــرفت کې ، خـــپل انـــــــجام
«««««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
خبر دار له خپله حاله وي ، مدام
چي د زړه په سترګو چا وليد انجام

««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
پيدايښت کې چي له خاورو يو پيدا
فرق به څه وي ای غافله زما و ستا
««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
پيدايښت کې چي له خاورو يو پيدا
فرق به څه وي ای غافله زما و ستا
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
که مي سر شي په لحد کې ايری خاوري
هر ذرې کې به مصرع ســــــــــتا د ثنا وي
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
ډير حکمت په پټه خوله د ګل کې ، پروت دی
چي په رمــــــــــــــــوز باندی يی رســــــــــی ، بلـــــبلان
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
د محشر د لمر به تاو هم ماته نه وي
که زما سره وي ، دا نمـــــــجني ، سترګي
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
په وجود کې ، روح اوتن راته ژړيږي
اشارت چي د رفتن ، راباندی ، کيږي
«««««««««««««««««««««««««««««««
داسي مه ګڼه چوپتيا می ، چي په هيڅ هم نه پوهيږم
لکـــه ګل په خامـوشئ کې ، په هزار ژبـــو وييږم
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
درست وجود می ، لکه خس راته ښکاره شو
لامبو زن ، چي په ګـــــرداب د کاييـــنات وم
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
که عدم دی که هستي ده ،که نيستی ده
په دي يو ـــای کې هم نشته ،هوساينه
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

نازک وختونه
ساقـی ژر کړه ، د شــــــرابو نوبتونه
چي تيريږي ، د دنــيا نازک وخـــتونه
تر دي دمخـــــه ، چي مـکاره زمـــانه
د سر کنډول څخه مو جوړ کړي جامونه
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
اندیښمند وګړي
د چا په مرګ باندی خندا نه ده په کـــار
چي ټاکـــل شوی ده ، بشـر ته دغه لار
په جهان وي اند ېښمــند هغـــه وګړي
چي يي تل وي له خپل انجامه ځيني ډار
««««««««««««««««««««««««««««««««««««««««
د غرور په لومه
څوک چي لافه د هستی وهی جــاهل دی
له خپل عجز ا و له انجام ځینی غافل دی
له خپل ځانه بی خبر ، هغـــه نادان وي
چي په لومه د غرور، نښــتی ، تل دی
««««««««««««««««««««««««««««««««««««
د بلبلي پیغام
خـبر نه يـــي، د ســحر په وخت بلبله
ژړه غونی ، لــه فـانی دنیــا په خـپله
دا پیغام يي ، په فریاد کي دی ، نغښتي
چی غفلت له خوبه ویښ ، شه ای غافله
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
د عبرت آوازونه
چي مې پورته په غرور کـړل ، قدمـونه
له دي خاورو نه تر غوږ شول ، آوازونه
قـــدم رو ږده ، ای نــادانه ، بـــی خـبره
چي کـکری دي ، مخــونــه دي لاسـونه
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
ازلی علم
له سپيرو خاورو يي ، جـوړ کړو زمونږ پيکر
نښي يي کيښودي ، په کــي د خـــــــپل مظهر
که په سترګو د حکمت ځير شئ ، خپل ځان ته
ښکــــــاره به شــــي ، د ازلي علـم ،ګـــوهر
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
فانی دنیا

زه هغه وم ، چي مي تل وو ، په خپل حــال باندی ژړل
هر نظــــر کي د عبرت می ، خپل انـــــجام ته وو ،کتل
خواهشاتو د خپل نفس هومره ځـــــان باندی ، میشته کړم
چي يي هر دم د فــاني دنيا لـــه مکره کـــــــــړم غافل
»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»
د روزګار مکتب

لوړ مکــــــتب د فلسفی دی ، روزګار
لوی استـاد دی ، د نادان او د هوښیار
د عبرت نښي پرتي دي هر زمـان کي
صاحبدل که وي ، په زړه باندی بیدار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

««««««««««««««««««««««««««««««««««

نوی عبارت

له هر بوټي د ګلـــشن نه ، بوی د رحمت راځي
له خاموشه خوله د ګل نه ، رمز د حکمت راځي
خـاونــدانو ته د حـــــال ، پـه دي چمن کي
خار وخس ښـخه ، یو نــوی ، عبارت راځي

«««««««««««««««««««««««««««««««««««««

د فاني دنیا عمر

ساقي راوړه ډک جـامونه ،په سـبا اعتبار نشته
دغـه دم په تیریدو دی ، په دنیـا اعتــبار نشته
ته به څو پوری داده یي ، د فــانی دنیا په عمر
دلته هر شی ګذری دی ، په هیڅ چا اعتبارنشته

«««««««««««««««««««««««««««««««««

سست بنیاد

که هر څومره په دي کور باندی ، خواری کړم
مهــارت د استـادی ، او معمــاری کـــــــړم
پاتي کیږي بــــه ضرور، په یــــوه ورځ کي
د فــانی دنیـــا په مـخ چــــي ، آبـــادی کــړم

«««««««««««««««««««««««««««««««««««««

نیمګړي آرزو ګانی

لا جوړ نه وي ، دوه دیوالــه مو د کور
اجل راشي په تړون کـــي شو ، د ګور
آرمانونه ، آرزو ګـاني شي ، نیمګړي
دي دنیــــا نه په سفر شــو، په بل لور

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

انجام لیدل

هره خښـــــته له بنیاده ، دلتـــه خــام وینم عالمه
د دنیا د مکـــــاری هر خـــواته دام وینم عــالـمه
داچي زه یم هر لمحي کي ، په سوچونو اندیشنو کي
زه د زړه په سترګو خدایرو، خپل انجام وینم عالمه

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

د هستی نظام

د رحمت وربښت دي تل ، په خاص وعام دی
نیم کـــتو کي دي ، په هرڅــه باندی پام دی
فلسفیـان متـحیر دي ، ستـــا حــــکمت ته
چي دا څرنـــګه جوړښت ، ستا د نظام دی

«««««««««««««««««««««««««««««««««««

د اجل کمین

په فاني دنیا می هیڅ اعتـــــــبار نشته
څـــکــــه دی نه ،د وفـــــا انتـظار نشته
اجل هر ځای په کمین کي راته ناست دی
یو شیبه ، د اوســیدو اخـتیار نشـــــــته

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

خپل عجز

یو شیبه لکه د ګرد په شـــان ښکاره شوم
په حیرت کي ، د جهان په ننـــداره شوم
لا په خپل عجز می ، نظر نه وو، لویدلی
چي لــه دي دارفنـــا نه ، آواره شـــــــوم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولـئ

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

په رڼو سترګو نظر

دغه وخت دی ، چي په خلاصو سترګو و ګورو دنیا
ځان خبر کړو د هستي لـــــه فلـسفی ، او له معنی
که نه بیا به پس له مرګه ، ډیر کـــلونه او عمرونه
خاوری خاوري به پراته یو ، د عـدم په لاري بیـــا

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

د معنی لټون

د اجل ښخه مو نشته دی ، خلاصون
که په پوهه ، ارسطو شــو ، افلاطون
بوعلی که ســـقراط کــه بقراط وو
د دي تکي د معـنی ول ، په لټـــون

««««««««««««««««««««««««««««««««

فلسفی نظر

په ژور سوچ چي می وکتل خپل ځـــــان ته
کوږ رفتار د دي جهـــان او د زمان ته
چي د عقل می نظر په عــجز ، پریوت
دومره لوړ شومه ، چي وختم آسمان ته

«««««««««««««««««««««««««««««««««««««

فلسفی خیالات

په سو چـــونو زړه ته می ، رانغلو قرار
نه خیالات د فلسفی می شــــــول ،مهار
شیرین عمر ، په حیرت کي رانه تیر شو
خو ښکاره نه شو ، د پردي شاته اسرار

«««««««««««««««««««««««««««««««««««««««

د تحقیق سوچونه

خاوري شوی دي ، سرونه په فکرونو
په تحــــــقیق د حقیـقت او ګرویږ نو
فلسفیانو ډیری شپی دي سبـــا ، کړي
د خلقت په اندیښنو ، او په ســـوچونو

«««««««««««««««««««««««««««««««««««««

د اوښکو دریابونه

د دردمنو می په حـــال شـول ، قلم زړونه
چي احساس یی کړل ، زما د زړه دردونه
کاتبـــــان می د کرام ټول ، په ژړا ، کړل
چي له اوښکو نه می جوړ کړل ،دریابونه

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ